شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریك نشراتي ارگان

داسلامي حکومت دپاره ځان جوړکړی

یونس بن ابی اسحاق «رضی اللّه عنه» له خپل پلار څخه روایت کوی وایی: داللّه رسول صلی اللّه علیه وسلم فرمایلی دی:« څنگه چی تاسی یاست ، همهغسی حکمران به په تاسی باندی مأمور کیږی (حکومت به کوی)

(مشکوة- باب کتاب الامارت)

ولی غیر اسلامی حکومت غواړی؟

لوی خـــدای «جل جلاله» فرمایئ: « آیا دغه خلك د جاهلـــیت حکم غواړی؟ اوکوم قوم چی په اللّه «جل جلاله» باندی باور لری ، ددوی دپاره له اللّه « جل جلاله» نه ښه حکم کونکی څوك دی؟ (بلکی یواځی الهی حکومت دی چی دخلکو درسته لاربښوونه کوی)

ژباړه : (المائده - ٥٠)

لومړی کال | دري دیرشمه گڼه | دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال د سنبله د میاشتی (٥) | د ۱۹۹٦ میلادی کال د اگست (۲٦) | د۱٤۱۷ ق کال ربیع الثاني (۱۲)

دځینو دعلی خیلوچاوړی ، داتحاد اسلامی دتوربابا غوند اوسپینه شگه دطالبانو داسلامی تحریك له خوا ونیول شول

دحزب اسلامی افرادو دقامونو دوه سوه کسیزه جرگه وته منفي ځواب ورکړ

په دی جگړه کی مقابل لوری ته د سراوحال درانده تلفات ورسیدلی دی

په جگړه کی په زرگونو میله سپکه او درنده وسله، ټانکونه ،موټرونه ، دوه استکرمزائیل دطالبانو لاس ته ورغلی ده

له څه مودې څخه راپدیخوا په پکتیا ... پکتیکا او خوست کی دحزب اسلامی ... قوتونو غوښتل دکابل دائتلافی اداری په مرسته دطالبانو په سیمو کی حالات گډوډ او ... دخلکو ورځنی ژوند له مشکلاتو سره مخامخ کړی، چی دهمدی کشمکش په نتیجه کی ... دپکتیکا ولایت دارگون په تابوت کی دحزب اسلامی قوی مرکز له مینځه یووړل شو ... اوهغه سیمه دحزب اسلامی له افرادو څخه تصفیه شوه. ... دطالبانو داسلامی تحریك ... په مشایخو کی خپل قوتونه منظم او دخلکو ... پاتی (٤) مخ

دملي اسلامي محاذ محترم مشر پیر سیداحمد گیلاني له شریعت اونیزي سره په مرکه کي:

دافغانستان قضیه یوه بین المللي قضیه ده، نه سیمه ایزه

دایران له کړنلارو ډېر مننه ، خو په افغانستان کی دی راتلونکی لیږلی نه جوړي

دکشمیر مسله دملگرو ملتونو دامنیت دشوري له اجندا څخه ایستل دکشمیر دخلکو سره ظلم دی

پیر سیداحمد گیلاني چی دملي اسلامي محاذ مشري په غاړه لري ، دافغانستان ... دمشکلاتو دسیاسی حل په لټ کی یئ په دغو ... ورگو کی هلی ځلی پیل کړي دي، دشریعت ... پاتی په (۲) مخ

مؤتمر ته لازم ده چی دملی او بین المللي شوی هیواد په بیاودانولو کی یوځل ته دهر اړخیزي همکاری لاسونه ورکړو

(دکندهار والی)

دطالبانو داسلامی تحریك ... مؤسسی سره دبیا ودانولو په چارو کی ... پوره مرسته کړې ده او ... مرستی څخه منته کوو (دW.F.A) مشر ... پاتی په (٤) مخ

جنگهای بوسنیا هرزگووینا جمعاً دوصد وهشتاد ودوهزار کشته از خود به جای گذاشت

از قول رادیو ایران یك منبع بوسنیائی تعداد قربانیان جنگهای (٤)ساله بوسنیا هرزگووینا را جمعاً دوصدوهشتاد ودوهزار کشته وچهارصدهزار نفر مجروح نشان داد. منبع افزود که از جمله این تعداد (۱٤۰۰۰۰) هزار نفر مسلمان ، (۹۰۰۰۰)هزار نفر صرب و (۳۰۰۰۰) هزار نفر کروات و (۱۲۰۰۰) هزار نفر از سایر اقوام میباشند.

عجایب خلقت

در مغزیك طفل پنج ماهه طفل سه انچه دیگری

کویته (K.P.I) در یك عملیات کامیاب جراحی در شفاخانه ملکی ا کویته بلوچستان ... بقیه ص (٤)

درحدود یك ملیون از افواج روسی علیه مجاهدین چیچن میجنگند

بیشتر از ده هزار تانگ وموتر های نظامی وزیاده از صد فروند طیاره جنگی در این جنگ اشتراك دارند

بانك جهانی با روسها کملك میکند ، امریکا ، دول غربی قرضه های زیادی به روسیه میدهند

جای تأسف این است که بعضی از کشورهای عربی قرضه های که بالای روسها داشتند آنرا بخشیدند وبعضی دیگری از کشورهای عربی به روسیه قرضه فراهم می کنند.

سلیم خان اندربایوف

شامل بسایوف

تمام افرادیکه دراین جهاد اشتراك دارند به خاطر کسب رضای خداوند وغرض آزادی از کفر والحاد میجنگند در این جنگ یك ونیم ساله هژده هزار عساکر روسی کشته شـــده اند

در این اواخر مجله تکبیر که گفته میشود منسوب به جماعت اسلامی پاکستان بوده و از حمایت همه جانبه بعضی حلقه های استخباراتی منطقه برخوردار است از سرزمین مرد آفرین ومجاهد چیچن دیداری داشته ومصاحبه ئی بارئیس جمهور چیچن مجاهد سلیم خان اندربایوف سائر ومسئولین مجاهد چیچن بعمل آورده که ماقسمتهای از ... بقیه ص (٤)

دکجکي له بند څخه دبرښنا ترلاسه کولو په صورت کي به هولو نیمه یي ولایتونو ته په کافي اندازه برښنا ستوزیع شي

له کندهار څخه زمونږ خبریال خبر راکوي چې دکجکي دبرښنا د بند دبیافعالولو هلي ځلي ... گړندي شوي دي. خبریال وایي دکندهار داوبو اوبرښنا رئیس محترم ملامحمد عیسی اخند چې څه موده دمخه دکجکي دبند دبرښنا پاتی په (٤)مخ

دسالنگ دلوی لاري پرانستل دتجارانو اوسپین ږیرو غوښتنه وه

حکمتیار څو واری وغوښتل چې ... ته راتلل ... ورکړي

کـــه دولت دولت وبولو نو عامي خبري اتري مـــو ورســـره کـــړي دي

په حکومت کي دطالبانو دغور ځنگ په شان دځواکمنو قوتونو له گډون پرته به موږ هم په حکومت کي برخــه وانـــخلو.

جنرال یوسف

دشمال دجنبش ویاند جنرال یوسف د بی بی سی سره په مرکـه کي څرگنده کـړه چي دسـالنگ دلويي لاري دپرانستـو په رابطه دشمالي ولایتونو سپین ږیرو او نورو تجارانو دجنبش د مشـر سره څو واری خبري اتري کړی اوله هغه څخه یی غوښتنه کړې چی دغه لاره پرانیزي. جنرال یوسف وویل دحکمتیار سره مو اړیکی ښه دي اوهغه هم کولای شي چی په دې اړوند رول ولوبوي. جنرال یوسف زیاته کړه حکمتیار څو واری مزار ته دراتلو هیله څرگنده کړي خو لاتر اوسه ورته زمونږ لخوا دهو یا نه ځواب ندی ورکړل شوی.

پاتی په (٤)مخ

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

ص۲

د بوسنیا د صربیانو تیـــــــــر

ص۲

دشریعت تبصـــــــره

ص۲

دادب ملغلری

۳مخ

دملي اسلامي محاذ دمحترم مشر مرکه:

۳مخ

دسپیني شگي د اســتراتــژیــك مرکـــز د بشـــپړ نیولو وروسته د شپول غوند هم ونیول شو

اوس په ټوله پکتیاکي دطالبانو دمخالفینو هیڅ اثار نه لیدل کیږي ، بي . بي . سي د سنبلي ٤

ولايت څخه یې لیدنه کړې د بي بي سي ... آزاد ژورنالیست علي افضل افضل چي پدي ورځو کي دپکتیا ... درادیو سره پخپله مرکه کي چي تیره شپه بي وي ویل : چي اوس په ...

در علاقه سرحدي، اسلام قلعه مقداري زيادي اسلحه ومهمات كه از ايران آورده ميشد . بدست نگهبانان سرحدي كشور افتاد

.خبر نگار هفته نامه شریعت از مرکز ولایت هرات خبر میدهد که : نگهبانان قهرمان سرحدي ، تحریك اسلامي طالبان در علاقه سرحدي ، اسلام قلعه به یك مقدار زیاد اسلحه ومهمات که از ایران توسط الاغ به مربوطات هرات انتقال میگردید دست یافتند. خبر می افزاید که ازاین مهمات واسلحه مزدوران وطن فروش ایراني میخواستند که غرض اجرا، اعمال غیر انساني غیر اسلامي تخریبکارانه در مربوطات ولایت هرات استفاده کنند که قبل از اجرا، اعمال تخریبکارانه توسط نگهبانان بیدار واگاه سرحدي دستگیر گردید عاملین واقعه غرض تحقیقات قانوني به مقامات امنیتي ولایت هرات تسلیم داده شدند.

دحکمتیار دپیسو دچاپ ماشین هم ونیول شو

زمونږ خبریال له سیمي څخه خبر راکوي چي دحکمتیار دسپیني شگي نظامي مرکز داسلامي تحریك تر ولقي لاندي شو په گڼ شمیره وسایلو کښي دحکمتیار دپیسو دچاپولو هغه ماشین چي ده دکابل دائتلافي اداري په مقابل کښي پوي جعلي بانك نوټونه چاپول اوس هغه ماشین سره له غونډو اسبابو دطالبانو په واك کښي لویدلی دي.

په خوست کی یوتن قاتل قصاص کړای شو

له خوست څخه زمونږ خبریال خبر راکوی چی داسمعیل خیلو اوسیدونکی حبیب اللّه دخپل خسر دقتل په جرم قصاص کړای شو.

قاتل حبیب اللّه چی پولیس کال دمخه یی خپل خسر مندگل(محمدگل) په ناحقه وژلی وو او دخوست ولایت دامنیتی ځواکونو له خوا گرفتار شوی وو، وروسته له تحقیقاتو څخه مجرم په خپله گناه اعتراف وکړ، چی دصحی اسنادو په رڼا کی دخوست دشرعی محکمی له خوا په نوموړی قاتل دقصاص امر صادر شو او داسد په دیرشمه نیټه حکم تعمیل شو.

دقصاص په دی غونډه کی په زرگونو تنه دخوست ښاریان او دقاضیانو اوسیدونکي حاضر وو، دقصاص له تطبیق نه مخکی مرافعی رئیس او داطلاعاتو او کلتور رئیس محترم محمد سرور خان صدیق مل په اسلام کی دقصاص فلسفه بیان کړه اوبیا دخوست والی محترم حاجی عبداللّه آغا او دوالی مرستیال محترم مولوی محمد اسحق اوځینو نورو عالمانو دمقتول ورثې ته دبښنی فضائل بیان اوله هغوی څخه یې وغوښتل چی قاتل وبخښي ، خو هغوی داعذر ونه مانه او دمقتول زوی زاهد گل له قاتل حبیب اللّه څخه خپل قصاص واخیست.

سرمقاله

دکمونیستانو په خلاف له طالبانو سره ملگری شی

دټې دنشراتي اورگانونود خپرونو سره سم ، تیره اونۍ د کابل په اصطلاح اسلامي حکومت کابینې فیصله کړې ده ، چې دکابل په حکومت کې به دېرلو هغو کمونیستانو ماموریت پایته رسوي چې په ۱۹۹۲م کال کی دکمونیستی حکومت په رسمي اورگانونو کي یي وظیفه اجرا کوله اواوس هم په دولتي ادارو کي خپلو دندو ته دوام ورکوي.

دافیصله دپه اصطلاح اسلامي دولت درئیس ترتوشیح پوري معطله ده که ددولت رئیس یي توشیح کړي نو په کمونیستانو به له دولتي مهمو پوستونو څخه دلري کولو پیل وشي، دکابینې دغه فیصله دکمونیستانو په خلاف چي تر اوسه یي خو له وړاندي پټه کړې وه او دافغانستان عامو خلکو ته معلوم وُو، خورا ډېر ښه اقدام دي چي لږ ترلږه دکابل په ائتلافي اداره کي دکمونیستانو په خلاف دافغانستان دمسلمان او مجاهد ملت دهیلو او ارزو گانو سره سم یو تهدیدي اوازپورته شو. له اللّه تعالی څخه غواړو چي دوي ته توفیق ورکړي او دتبلیغاتو په ځاي عملي گامونه اوچت کړي.

له نښو نښانو څخه داسي څرگندیږي چي اول خو به نوي صدراعظم صاحب اوهغه کابینه دکوم کمونیست په پیدا کولو کي بریالي نشي، ځکه هغوي اوس ټول پاتي په (۲) مخ

زمونږ هدف دخدای (جل جلاله) په حمکه اصلاح راوستل اوفساد ورکول دي

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: دلیکوال هیئت تر کتنې لاندې
مسئول مدیر : مولوي احمد جان
تیلیفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پېښور کې دطالبانو داسلامي تحریك نمائندګي
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۵۰۰) افغانۍ
: په پاکستان کې (۳) کلداري

سرمقاله ...

دجمعیت ، حزب اواتحاد کارتونه په جیبونو کې ګرزوي، اوکه کارتونه مؤثر ثابت نشي نوبیا دبابه جان ، فهیم اونظار دشورې په شانې پیاوړي ددفاع خپل دزوروور مرکزونه لري چې کیداي شي صدراعظم صاحب له کابینې سره له کابل څخه وتلوته مجبوره کړي.

داسلامي حکومت ! دکابینې دفیصلې په خلاف دصدراعظم صاحب دخارجه چارو د وزارت سرپرستیال وزیر اودنظار دشورې په نزد عیني وزیر صاحب عبدالرحیم غفورزي چې خپله دکمونیست حکومت لوړ رتبه دیپلومات پاتې شوي اوپه اسلام دښمنۍ اوبداخلاقۍ کې پوره شهرت لري ، هغه مرکه چې دفیصلې په تعقیب یې له بي.بي.سي راډیو سره وکړه او ویې ویل: چې په کابل کې خوړه دولتي پوستونوکي ډېر لږ کمونیستان دي، اصلاً دکابینې دغه فیصله دهغو کمونستانو دمخنیو دپاره شوې چې دصدراعظم صاحب دپخواني ائتلاف دملګري جنرال دوستم له دولت سره دمکنه یوځاي کیدلو په صورت کې به دحکومت مهمو پوستونو ته معرفي کیږي، چې مطلب یې په ښکاره باندې له یوې خوا دصدراعظم صاحب دفیصلې مخالفت ؤو اوله بلې خوا دابښودل وُ چې په حقیقت کې خپله صدراعظم صاحب دغه چې لګیا دی دکمونیستانو راتګ ته لاره خلاصوي. په داسې حال کې چې دیوه باخبره او آګاه داسې تحریکي په وینا چې اوس په کابل کې د رباني صاحب اوحکمتیار صاحب په څنګ کې ناست دي اونیکې مشوري ورکوي! « په کابل کې یولك اوپنځه اویازره (۱۷۵۰۰۰) ته مسلح کمونستان بواځې په خاد کې داسلام اومسلمانانو په خلاف په فعالیت بوخت دي اودولس زره (۱۲۰۰۰) ته بواځې کمونیستي ښځې صاحب منصباني په خاد یا ملي امنیت کې وظیفه اجرا کوي چې ژباتره دمجاهدینو دانحراف دنده په غاړه لري. » خو دکابل د اداري سرپرستیال خارجه وزیر دهغو دپټولو کوښښ کوي او وایي چې کیداي شي یو څوتنه کمونستان وي !

دکابل په اداره کې دکمونیستانو په سر دحزب او جمعیت دغه نوي اختلاف بالکل هغه ناندرۍ اواختلاف سړي ته وریه یادوي چې دنجیب دحکومت له نسکوریدلو نه وروسته یې ددوستم دملیشې په سر پیل کړې وې اودبي .بي .سي د راډیو دساتیري اومسخرو په ژړه پورې برخه ګرزیدلې وه .د حزب نماینده به ویل چې له ائتلافي اداري سره ددوستم کمونیستي ملیشې دي ، ځکه یې په خلاف جګړه کوُو، او داحمدشاه مسعود وروور به په انګلستان کې ددولت په نمایندګي ویل: په کابل کې ددوستم دملیشو په نوم اصلاً هیڅ شی وجود نه لري اوس هغه ټولې داسلامي اردو جز ګرزیدلي دي.

اوکله چې ددوستم ملیشو له حکمتیار سره ددولت په خلاف ائتلاف وکړ او دکودتا کولو هڅه یې وکړه رباني صاحب او ملګرو یې هغه بیرته کمونیست کړ اوپه خلاف یې جهاد اعلان کړ ، او اوس چې حکمتیار صاحب له دولت سره یو ځاي شو نو حزب اوجمعیت دواړو ددوستم د راجلبولو دپاره جلا جلا هلې ځلې پیل کړي، خو کله چې بیا حزب په دې لړ کې بوخه سبقت وکړ ، نوغفورزي دکمونیستانو په خلاف دصدراعظم صاحب دکابینې فیصله ددوستم ملګرو ته متوجه کړه، او دخپلو طرفدارو کمونستانو دپټولو ناپاك اوبې شرمه جرأت یې وکړ چې په حقیقت کې دافغانستان داسلامي جهاد په خلاف یو توهین آمیز حرکت دي.

اوس نو دکابل د اداري مسلمانانو او مبارزو اشخاصو ته پکار دي چې خپلو ګریوانونو ته سرونه ټیټ کړي په خپلو اعمالو باندې فکر وکړي له جهاد اوملت سره خپلې جفاوي وریه یاد کړي په خپلو متضادو موافقو او دریزونو باندې اعتراف وکړي، دخپلې دوستۍ اودښمنۍ معیاره «الحب في الله والبغض في الله» وګرزوي. دکمونیستانو په خلاف له طالبانو سره ملګري شي، له کفاروسره دموالات په ځاي دطالبانو اسلامي تحریك ته ددوستۍ اوتعاون لاسونه ورکړي. دتش په نوم اسلامي دولت څخه برائت اعلان اودځو مادي لذتونو څخه یې تیر شي، او قدرت دطالبانو اسلامي تحریك ته انتقال کړي، څو عملاً ووینې چې دکمونیستانو ټولې ځالې له مینځه تللې دهیواد اصلي واکداران واقعي مجاهدین ګرزیدلي اواسلامي شریعت په بشپړه توګه بې له کوم ترس اوډیرې په ټول هیواد کې پلي شوي اودافغانستان دمسلمان او مجاهد ملت پریوتي شمله بیرته په ټوله نړۍ کې جګه شوې وي. هغه وخت به لوي خداي «جل جلاله» راضي اونصرت به یې زمونږ په برخه وي، بیانو دنړۍ داستکباري ځواکونو ددیسو په خلاف هغه خداي «ج» نعم المولي ونعم النصیر.» دي اوبس.

دشریعت تبصره

دکابل دائتلافي اداري ترمنځ سخت کشمکش پیدا شوی دی

دباوري منابعو دخبرونو له مخې دکابل په نوې ائتلافي اداره کې سخت اختلافات اوکشمکش پیداشوی او دزیاتیدو په حال کې دی، دغه کشمکش اواختلافات هسې دوه خبره نه ده بلکې دا دهغو ځانګړو غوښتنو اوتنظیمي ګرایشونو زیږنده ده چې دحزب اوجمعیت په تیره بیا حکمتیار او مسعود ترمنځ له اوږدې مودې څخه راپدېخوا موجود ؤو او آن تردې چې په هیواد کې دځلورکلنې کورنۍ جګړې سبب هم وګرزیدل.

ددوی هریو که کومه ګټوره خبره هم وکړي، خو هغه بل یې ځکه باید رد کړي چې دده پخواني حریف کړې ده او دهغې منل دده موقف اوحیثیت ته تاوان رسوي ځکه خو نو ددوی ترمنځ دنوي ائتلاف له کیدو نه وروسته هم هره ورځ په یوه داسې موضوع شخړه پیدا کیږي چې اصلاً باید د دواړو اړخونو له خوا ومنل شي.

درنو لوستونکو ته به یاد وي کله چې انجنیر حکمتیار په مامورینو باندې دجمعې دلمانځه پابندي ولګوله. په سینماګانو کې یې دلوڅو او بې حیا فلمونو دبند ولو، دښځو شرعي حجاب د لازم بللو او ځینو نورو غیر شرعي رسم او رواجونو د بندولو غوښتنه وکړه ، نو په مقابل کې دجمعیت اخبار(مجاهد) څه ولیکل « عزیز مراد څه وویل« او دبهرنیو چارو دوزارت سرپرست غفورزي څه وویل« دټولو په مخکې پراته دي اوپه دې توګه په غیر مستقیم ډول احمد شاه مسعود دخپلو پېڅو په واسطه حکمتیار ته دا وښودله چې په هر کار کې زما مشوره اوهدایت شرط دی.

بیا څه وخت چې دائتلافي اداري دصدراعظم په توګه حکمتیار په دولتي ادارو کې دپخوانیو کمونستانو او دوطن دډښتانو موجودیت ترسوال لاندې راوست او دایې وویل چې په دولتي ادارو کې به کمونستان خپل صلاحیت او اقتدار له لاسه ورکوي نو په مقابل کې داحمد شاه مسعود په اشاره ټولو پیلوټانو دالوتکو له چلولو څخه انکار وکړ او دایې وښودله چې که پرون موستاسو دپاسه بمباري کوله، نو دانن هم ددې صلاحیت لرو چې ستاسو هوایي ترانسپورت او هوایي قواوې له سقوط سره مخامخ کړو.

ددې ترڅنګ دبهرنیو چارو دوزارت سرپرست چې تربرونه پورې دکمونست رژیم لوړ رتبه مامور ؤ او آن ترددې چې دملګرو ملتونو په مؤسسه کې یې دکمونست ګوډاګي رژیم نمایندګي کوله په ډاګه وویل چې په دولتي ادارو کې کمونستان نشته. خو که رشید دوستم له ائتلافي اداري سره یو ځاي کیږي، نو موږ به ترې وغواړو چې دولت ته هغه ځواك معرفي نه کړي چې لاسونه یې دملت په وینو سره وي.

دلته دا سوال پیداکیږي چې دملت په وینو د لاسونو له سره کیدو څخه مطلب څه دی؟ که مطلب کمونستان وي او دپخواني کمونست رژیم افراد وي ، نو پخپله غفورزي چې همدا اوس دائتلافي اداري په لوړ رتبه مقام کې ځاي لري تر پرونه پورې له هغه چا سره ؤ چې نه یوازې یې لاسونه دملت په وینو سره دي بلکې وطن یې عملاً په روسانو پلورلی او دوطن دتباهي اصلي عاملین دي، اوکه دکمونستي رژیم له راپرزیدو څخه وروسته دځلورکلنې مودې جنګ اوجګړې غرض وي، نو پخپله رباني ، حکمتیار اواحمد شاه مسعود له هغو کسانو څخه دي چې په تیرو ځلورو کلونو کې یې نه یوازې دملت له وینو نه ویالې وبهولې بلکې تاریخي کابل یې په کنډواله بدل کړ.

اوس دیوسالم قضاوت له مخې نه پخواني کمونستان اونه دائتلافي اداري واکداران برأت ترلاسه کولاي شي ځکه لکه چې وموویل پخوانیو کمونستانو دوطن دتباهي اوبربادۍ تهږه کیښوده او دائتلافي اداري اوسنیو واکدارانو دوطن دبیاوداني لو پر ځاي کنډواله شوی هیواد لاپسې کنډواله کړ. نودغه دواړه جهتونه هم دانساني قوانینو، هم داسلامي قوانینو او هم دافغاني عنعنو او پرنسیپونو له مخې له ټولو هغو مدني حقوقو څخه محروم دي چې دهیواد دسیاسي اوانۍ په جوړولو کې دبرخې اخیستلو لپاره ورته ضرورت دی.

موږ دانه وایو چې له دوی سره څه باید وشي، موږ دخداي «ج» دقانون له مخې خبرې کوو، موږ دغه فیصله دقرآن فیصلې ته حواله کوو اوملت ددې حق لري چې دخداي «ج» دقانون اونبوي شریعت په رڼا کې له هغوی سره حساب وکړي چې حتماً به هغه ورځ راورسیږي چې دوطن د وراني عاملین دشرعي محکمې په وړاندې دځواب ورکولو لپاره حاضر کړای شي.

دملي اسلامي محاذ محترم مشر پیر سیداحمد ګیلاني له شریعت اونیزې سره په مرکه کې:

پیر سیداحمد ګیلاني چې دملي اسلامي محاذ مشري په غاړه لري ، دافغانستان دمشکلاتو دسیاسي حل په لړ کې یې په دغو ورځو کې هلې ځلې پیل کړي دي، دشریعت اونیزې خبریال له ده سره دافغانستان په روانو حالاتو او ده دسیاسي هلو ځلو په اړوند مرکه کړې چې لوستونکو ته یې وړاندې کوو.

پوښتنه : جناب پیر صاحب په کابل کې دحزب اوکابل داداري ترمنځ یو ائتلاف مینځ ته راغلی چې دوي یې دافغانستان دشخړې دهوارې دپاره اساسي ګام بولي، په داسې حال کې چې دقدرت ساحه یې له صفر سره برابره ده ، ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: دغه ائتلافونه اواتحادونه جوړول بوغادي کار دي، دافغانستان مشکل دیواویادوو ډلو په یوځاي کیدلو نه حل کیږي تر څو چې دافغانستان اکثریت ورسره ملګري نه وي، امید ده چې دوي به دې کارته متوجه شي دوي ته پکار دي چې قدرت دافغانستان خلکو ته انتقال کړي اوواکدار باید په ډېره دوستانه فضا کې تر سره کړي.

پوښتنه :په دې وروستیو کې تاسې دملي اسلامي جبهې په نوم د افغانستان دقضیې دسیاسي حل دپاره یوڅه هلې ځلې پیل کړي دي، که دخپلو هلو ځلو دپرمختګ په هکله لوستونکوته څه معلومات ورکړئ ، مهرباني به مووي؟

ځواب: دافغانستان دشخړې دسیاسي حل دپاره یوه ملي اسلامي جبهه جوړول ځما په فکر کې وه ، کله چې قندهار ته دطالبانو داسلامي تحریك په بلنه ولاړم، هلته مې دتحریك له مشرانو سره وتیدل، له هغوي سره مې په خبروکي وویل چې په یواځې سرباندې دافغانستان مشکل نه حل کیږي، پکار ده چې یوه پراخه ملي اسلامي جبهه جوړه شي. په اسلام آباد کې مې دوستم اوحکمتیار ته هم دا خبره کړې وه اوهغوي له ماسره منلې وه ، خو حکمتیار تلوار وکړ، دکابل د اداري سره یو ځاي شو. وروسته مزار ته ولاړم چې هلته دغه خبره جدي شوه، په دې کې دننګرهار شورې هم ګډه شوه اوس دغه جبهه په موټر پورې منحصره نه ده، دطالبانو داسلامي تحریك او نوروګوندونو څخه هیله کوو چې په دغه جبهه کې ګډون وکړي څو دهیواد مشکلاتو ته دسیاسي حل لاره ولټوو.

پوښتنه : دمحمود مستیري دناکامۍ نه وروسته دملګرومتلونو عمومي منشي دافغانستان دمسئلې دحل دپاره ډاکټر ناربت هول دځانګړي استازي په توګه رالیږلی دی، چې دکابل د اداري سره یې دلیدلونه وروسته په داسې حال کې چې دطالبانو داسلامي تحریك په خلاف یې غیر دیپلوماتیکه لهجه استعمال، او دراکټ وشتلو غلط تورونه یې ورباندې ولګول چې تر اوسه یې نه کوم طالب لیدلی، اونه یې دتورونو په اړوند کوم سند ترلاسه کړی ، د ډاکټر هول د دارنګې رویې په هکله ستاسي نظر څه دی؟ آیا دی به وکړاي شي ، چې په خپل ماموریت کې بریالي شي؟

ځواب: ملګري ملتونه دافغانستان دمسئلې دحل دپاره هلې ځلې کوي، ډاکټر هول تر اوسه پورې له ماسره نه دي کتلي، داچې دی په ناڅیدلو اوبې دلیله دچاپه خلاف تورونه لګوي دابه کار نه دي، امید دی چې هول به په راتلونکي کې داسې نه کوي.

پوښتنه: دافغانستان دمسئلې دحل په اړوند دستاسو براون دهلو ځلو په اړوند ستاسو څه نظر دی ،چې تر څومره اندازې کامیابې دېلاي شي؟

ځواب: په امریکا کې « ستا » ډېر زیات اثر لري ، دامریکې حکومت دهغې له نظر څخه سر نشي غړولاي ، په دې باندې خوشحاله یو چې امریکا دافغانستان دقضیې دحل دپاره علاقه پیدا کړه.

پوښتنه : دایران دولت دافغانستان دمسئلې دحل په اړوند غواړي دسیمې دهیوادونو یوه غونډه راوبولي ، په دې اړوند ستاسي نظر څه دی؟

ځواب: دافغانستان قضیه یوه بین المللي قضیه ده، نه سیمه ایزه، دافغانستان دقضیې دحل دپاره په بین المللي سطح باید هلې ځلې وکړاي شي نه په سیمه ایزه سطحه دایران له کوښښونو څخه مننه ، خو په افغانستان کې دي راتلونکي بېلې نه جوړوي.

پوښتنه : دجولاي په دیرشمه دامنیت شوري دکشمیر اوفلسطین مسئلې دبحث داجنډا څخه وایستلې، دپاکستان دشکایت په اساس ټاکلې ده چې دسپتمبر په ۱۷ یوځلي بیا په هغې باندې بحث وکیږي. که داځلي هم له اجنډا څخه داخراج فیصله وشي، نو دکشمیرمسئله به دملګرو ملتونو له ساحې څخه حذف شي، ستاسي نظر څه دی؟

ځواب: دنړۍ ټول ملتونه دخود ارادیت حق لري، دکشمیر خلك هم دخپل برخلیك په ټاکلو کې دخودارادیت حق لري، دکشمیر مسئله دملګرو ملتونو دامنیت دشورې له اجنډا څخه ایستل دکشمیر دخلکو سره ظلم دی، دملګرو ملتونو دامنیت شورې داکار باید ونکړي، دکشمیر خلك حق لري چې خپل حق تر لاسه کړي، هیڅوك یې مخه نشي نیولای.

دملګرو ملتونو مؤسسې ته یو تنقیدي کتنه

په بوسنیا باندې دصربیانو تیری

مولوي عبدالحکیم "مجاهد"

اتمه برخه

۴- په بوسنیا دصربیانو تیري:

دپخواني یوګوسلاویا د له مینځه تللو نه وروسته بوسنیا یوځلي بیاخپل اسلامي تشخص ترلاسه کړ او دملګرو ملتونو دمؤسسې رسمي غړې وګرزیده ، خو داروپا په مینځ کې دغه اسلامي هیواد دلویدیځو هیوادونو دپاره دمنلو وړ نه ووچې دغه له اسلام اومسلمانانو سره ددوی ددښمنۍ یوه ښکاره بیلګه ده ، تن دبوسنیا ۸۰٪ ځمکه صربیانو په زور اونارواترخپلې ولکې لاندې راوستلې ده، لویدیځو هیوادونو دتش په نوم سولې ترڅولونکي عنوان لاندې دبوسنیا د اسلامي هیواد ۵۰٪ ځمکه صربي تېریوالو بدمعاشانو ته دانعام په توګه ورکړې ده.

داسلامي هیوادونو حکومتونه چې ګډه اسلامي پالیسي نه [illegible] ستعماري ځواکونو تر اغ[illegible]ي دي، ویې نکړای شو چې دبوسنیا دمظلومو مسلمانانو څخه په بین المللي ډګر کې دفاع وکړي او بوسنیا ته خپل مالي ، نظامي ، اخلاقي اوسیاسي مرستې ورسوي.

دملګرو ملتونو مؤسسه چې اساسي هدف یې په نړۍ کې سوله اوامنیت تأمینول، دبشري حقونو ساتل اومظلوم ته دظالم نه نجات ورکول دي په اسلامي هیوادونو کې چیرې چې دغربي هیوادونو ګټې په خطر کې نه وي اوتیری کوونکي اوظالم هم کوم غیر اسلامي هیواد یاملت وي ، د داډول شعارونو معاني اومفاهیم معکوس او مخالف شکل لري، چې هلته به جګړه دوام لري، بشر ته به دبشر په سترګه نه کتل کیږي او مظلوم به نورهم وهل کیږي او ټکول کیږي، او ددې کار یوه هم ښکاره بیلګه دبوسنیا مسلمانان دي.

په بوسنیا کې دبشري حقونو دمؤسسانو د رپوټونو سره سم تراوسه پورې له پنځوس زره زیاتې ښځې دصربي عسایانو په لاسونو بې عفته شوي دي، او تر سل زره ، زیات بوسنیایي مسلمانان وژل شوي دي. په ښځو باندې یې ډله ایز جنسي تیري شوي دي، دملګرو ملتونو مؤسسې ددې په ځاي چې دمظلومو اومحصورو مسلمانانو ژغورنې ته ورودانګي په بوسنیا باندې یې دوسلو دخرڅولو بندیز نور هم مضبوط کړ، له اسلامي هیوادونو څخه چې څه مرسته ورسره کیدله دهغې دمخنیوي دپاره یې [illegible] دبوسنیا شپږ ښارونه: سراجیوو، ترلا، ګورازده ، بهاك ، زیپا ، او سربرینتسا د محفوظې سیمې ، اعلان کړي او هلته یې دملګرو ملتونوفوځ ولیږل ،چې ډلته به هیڅوك حمله اویرغل نه کوي ، خو په عمل کې داسې ونه شول. دصربي ځواکونو لاسونه نور هم مضبوط شول او دظلم لمن یې نور هم پراخه شوه ؛ آن ترډې چې ده براتیو« په هوایي ډګر کې یې دملګرو ملتونو دفوځ په وړاندې دبوسنیا دمرستیال صدراعظم مېږ ودرول او دی یې ځاي په ځاي شهید کړ، د دومره ستر دولتي شخصیت د وژنې په ستره پیښه باندې هم دملګرو ملتونو مؤسسې هیڅ اقدام ونه کړ، صربیانو ته هیڅا تروریستان ونه ویل، دصربیانو په خلاف نه کوم اقتصادي تعزیرات ولګول شول او نه کوم نظامي عمل .

په دې برسیره دمی دمیاشتې په ۲۸ ، ۱۹۹۵م کال کې ده توزلا « په محفوظه سیمه کې دبوسنیا دخارجه چارو دوزیرالوتکه دصربیانو له خوا راوغورځول شوه چې د خارجه چارو دوزیر سره نور ددولت لوړ رتبه مامورین هم په کې شهیدان شول، خو دملګرو ملتونو مؤسسې په دې هکله هم څه ونه کړه .

په دې پسې ، صربیانو د ملګرو ملتونو په محفوظو سیمو باندې حملې پیل کړې ، خو څنګه چې دملګرو ملتونو له خوا ددوی په خلاف کوم عملي عکس العمل نه وو ښودل شوی ددوی حوصلې نورې هم لوړې شوې ، حملې یې تیزې کړې اود ملګرو ملتونو ۵٤۰ تنه فوځیان یې یرغمل ونیول، څینو هیوادونو د ناټو (NATO) دځواکونو داستعمالولو غوښتنه وکړه ، چې ناټو بیادنړۍ دغولونې دپاره دصربیانو یو دوه الوتکې راوغورزولې ، ورسره به یې صربیانو ته عذرونه هم ویل اوحتی دبرتانیا دخارجه چارو وزیر خو په ډاګه دناټو دغه څه ناڅه عمل هم وغانده او ویې ویل چې په دې به صربیان نورهم راوپارول شي.

دملګرو ملتونو دمنشور له مخې د بهرني یرغل په خلاف مظلوم هیواد ته داحق شته چې [illegible] دځان څخه ددفاع په خاطر خپل وسله وال ځواك په کار واچوي او ددې کار دپاره له نورو هیوادونو سره د ګډې معاهدې دکولو حق هم لري څو په ګډه سره دتیري کوونکي هیواد په خلاف دخپل ځان څخه دفاع وکړي. ملګرو ملتونو له بوسنیا څخه دوسلې دراتیولو له بندیز سره دغه حق هم سلب کړی چې دکوم مسلمان هیواد سره دمشترکې دفاع تړون لاسلیك کړي اوخپل ځان له ظلم څخه په خپله خلاص کړي .

ده « القضایا الدولیه» مجلې په ٢٤ دجولای ، ۱۹۹۵ م کال په ۲۹ ګڼه کې لیکلي : دسربرینتسا ښارچې دملګرومتلونو نو د « خوندي ښارونو » څخه وو او له مسلمانانو څخه یې ټوله درنده وسله ټوله کړې وه، دصربیانو له خوا محاصره شو ، له بلګراد څخه دوه زره عسکر سره له ټانکونو اوزغره والو موټرو دصربیانو مرستې ته راغلل اوپه سر برینتسا باندې یې هغه وخت حمله وکړه چې دملګرو ملتونو سویډني فوځ یې له دغه ځایه لرې کړ اوپه ځاي یې دصربیانو حامي دهالند فوځ ځاي په ځاي کړ.

دملګرو ملتونو دهالندي فوځ په مرسته صربیانو ده بیلغ اوبلیجن، حاکمې نقطې چې دملګرومتلونو دځواکونو په لاس کې وي ونیولې اوپه ټول ښاربانډې یې له دې ځایه اوریل کړ چې دڅو ساعتونو جګړې نه وروسته یې لومړۍ دښار مرکز او بیا د « بوتچاره » سیمه ترخپلې ولکې لاندې راوستله، دلته یې دصربیانو دعمومي قوماندان « راتکومیلادیچ » په امر له ۲۵ زره څخه زیاتې ښځې او ماشومان له ځانه سره بندیان کړل. له زرو نه زیات مسلمانان یې په شهادت ورسول او بوزیات شمیر هغه پیغلې یې چې عمرونه یې له ۲۰ کالو څخه لوړ ؤو دخپلو په اسانو دپاره له ځانه سره بوتلې چې دملګرومتلونو هالندي فوځ یې ننداره کوله. دښار پنځه زره خلك دښار [illegible] شمالي برخو ته وتښتېدل اوپه تښتېدنه کې بې شمیر هالندي فوځیان هم ورسره ملګري وو ، صربیانو شل زره مسلمانان د هالندي فوځیانو په وړاندې حلال کړل او دوی په ډېر سترګو ورته کتل ، ملګرو ملتونو ددغو غیر انساني جرمونو په مقابل کې هیڅ اقدام ونکړ.

دملګرو ملتونو دامنیت د شورې د ۸۳٤ او ۸۳٦ دستورلو له مخې سربرینتسا لومړی هغه منطقه ده چې دمحفوظې سیمې ترعنوان لاندې بې وسلې شوي وه، درنده وسله له مسلمانانو څخه ټوله شوې وه ، دصربیانو ددغه وحشي تیري نه وروسته دبوسنیا حکومت دامنیت دشورې دبیړنۍ غونډې دجوړولو غوښتنه وکړه خو دصربي ځواکونو په مقابل کې دځواك داستعمالولو اقدام وکړي اوله ښار څخه یې په زوره وباسي، خو دامنیت شورې د بوسنیا دحکومت دا غوښتنه ونه منله ، غونډه یې راونه بلله ، اونه خویې دبلګراد په خلاف چې دصربیانو سره یې نظامي مرسته کړې وه کوم تهدیدي اقدام وکړ اوحتی داقتصادي بندیزونو خبره یې هم نه کوله.

هلته دملګرو ملتونو ځانګړي استازي « یاسوشي اکاشي» ته دری ورځې مخکې معلومات ورکړه شوي وو چې صربیان په سربرینتسا باندې حمله کوي ، نه خو یې دناټو له ځواکونو څخه دمداخلې فوري غوښتنه وکړه اونه خوخپله دناټو ځواکونو دهغو وعدو اوصلاحیتونو سره سره چې د که صربیان په محفوظو سیمو باندې حمله وکړي دوی به پرته له دې چې ملګرو ملتونو ته مراجعه وکړي ، دصربیانو مخه به نیسي، د دصربیانو ددغه عمل په خلاف اقدام وکړ. په دې برسیره کله چې دملګرو ملتونو هالندي فوځ ستراتیژیك ځایونه صربیانو ته پریښودل اومقابله یې نه کوله ، دهغه ځاي مسلمانانو خپله درنده وسله دملګرو ملتونو دفوځ څخه وغوښتله چې له خپل ځان څخه دفاع وکړي، خو دملګرومتلونو فوځ دوسلې ورکولو څخه انکار وکړ. له بلې خوا په ملګرو ملتونو کې دټولو اسلامي هیوادونو اودبوسنیا ددولت دهغې غوښتنې په خلاف چې د له بوسنیا څخه دي دځان څخه ددفاع په خاطر دوسلو دراتیولو بندیز لرې شي« امریکا او اروپایي هیوادونه په دغه انسان ضد اومسلمان ضد دریز باندې کلك ودریدل چې په بوسنیا باندې دي دوسلو دراتیولو اوپلورلو بندیز باقي پاتې وي .په داسې حال کې چې صربیان دروسانو او نورو هیوادونو له خوا په مسلسله توګه تقویه کیدل ، چې د مسلمانانو او صربیانو تر مینځ دوسلو توازن په بشپړه توګه له مینځه تللی وو اومسلمانان په ډېر کمزوري حالت کې وو، دوسلو دتوازن دغه مسئله « القضایاالدولیه» مجلې په خپله ۲۷۵ ګڼه ، داپریل ۱۷ ۱۹۹۵م کال په خپرونه کې داسې کړې ده:

دجګړې تلفات	دبوسنیا مسلمانان	دبوسنیا صربیان	دکرواتیا صربیان	صربیا اوتورغر
مړونه	۱۱۰۰۰۰	۸۰۰۰۰	۵۰۰۰۰	۱۲۵۰۰۰
ټانکونه	٤۰	۳۳۰	۲٤۰	٦۰۰
توپونه	٤۰۰	۸۰۰	۵۰۰	۱۵۰۰
جنګي الوتکې	-	٤۰	-	۲۰
څرخي الوتکې	-	۳	۱۲	۱۰۰

له پورتني موازنې څخه په ښکاره باندې ترګندیږي چې ملګري ملتونه اوپه ځانګړي توګه غربي هیوادونه په ډېره بې شرمي سره غواړي دبوسنیا دمسلمانانو ټول نسل له مینځه یوسي اودااروپا له زړه څخه دیوه مسلمان هیواد موجودیت نفي کړي. او دصربي عیسایانو تر تسلط لاندې یې راولي. چې داکار په ښکاره توګه دملګرو ملتونو دمنشور اوبشري حقونو داعلامیې په خلاف عمل دی. خو دپېښو منل دي، چې زورورشي پښې له تخته سره دبل شي، کفري هیوادونه زورور دي ، متحد دي، د وړو او کمزورو هیوادونو په وینلو کې سره همغږي دي. ددې برعکس مسلمانان کمزوري دي بې اتفاقه دي ، او دخپلو ګټو دساتلو دپاره په خپلو منځو نو کې هیڅ همغږي نه لري. لوي خداي «جل جلاله» فرمایي: « زه دیوه قوم حالت نه بدلوو، ترڅو چې هغوی دخپلو ځانونو حالت بدل نه کړي » (الرعد-۱۱) دالله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي:« ددغه قرآن په واسطه باندې ځنې قومونو ته ترقي ورکوي اولوړ مقام ته یې رسوي،(چې عمل وربانډې وکړي) اوځینې نور په ذلت او خوارۍ مبتلا کوي (چې عمل نه ورباندې کوي) نن چې اسلامي نړۍ له قرآن څخه مخ اړولی دی، له همدا راز ذلتونه سره مخامخ ده او ترهغو به دغه ذلت اوخوارۍ مبتلاوي څو یې بیرته قرآن ته مخ اړولی نه وي.

دجګړې د مجرمانو محاکمه:

کله چې دملګرو ملتونو دامنیت شورې په پخواني یو ګوسلاویه کې دجګړې دمجرمانو دمحاکمې اعلان وکړ، دملګرو ملتونو عمومي منشي له سمدستي اقدام کولونه ډډه کوله او څو میاشتې وروسته یې دیوولسو قاضیانو څخه دترکیب شوی یوې نړیوالې محکمې (TRIBUNAL) وړاندیز وکړ چې دمالي وژنې ، شرمې، بې عفته کولو اوغیر قانوني بندي کولو اوپه نژادي او مذهبي تعصب باندې دګوروولو دجرمونو تورنو اشخاصو ته سزاورکړي. کله چې به له بطرس غالي څخه پوښتنه وشوه چې دې په بوسنیا کې دجګړې دمجرمانو په هکله ولې وروسته وړاندې کیږي؟ دهغه ځواب به دتل دپاره دیوه مغرور سرمایه دار پاسپین پوستي هغې کبرجن رویې ته ورته وو چې د بې وزله مسکین یا توریوستي په مقابل کې یې کوي.

اوکله چې داکټر شریف بسیوني په شیکاګو کې ده « بیول » په پوهنتون کې د بین المللي قانون استاد چې یونیك انسان ده ، په بوسنیا کې دجګړې دتورونو دمدافع وکیل په توګه پیشنهاد کیږي. دغه وړاندیز دروسي ، فرانسې او برتانیې له خوا په دې دلیل مسترد کیږي چې هغه که څه هم امریکایي ده ، خومسلمان ده ! چې داکار دبطروس غالي دهغې رویې اوسلوك تائید کوي چې ملګري ملتونه دمسلمانانو په مقابل کې له ډېره مخې اومنافقت څخه کار اخلي.

دبوند دوو، ده کریسچیان ساینس مرنیټور » د ورځپاڼې خبریال دصربیانو له خوا دبوسنیا دمسلمانانو دډله ایزو وژنو یو لړ شواهد او عیني کیسو دلیکلو نه وروسته چې دجولای په ١٤ ۱۹۹۵م کال په سربرینتسا کې پیښې شوې وې. لیکي چې دمسلمانانو دډله ایزې وژنې هدیرې په بوسنیا کې دري سوه ته رسیږي چې (۸۰۰۰) ته به دغو هدیروکې ختې شوي دي . خو ملګرو ملتونو تر اوسه پورې دغه ټولې پېښې ناڅیدلې بللي او حتی ددې خبرې هڅې روانې دي چې صربیانو ته وخت ورکړي څو دغه هدیرې په هرډول چې وي پټې کړي ، څنګه چې اوس هلته امنیتي چارې د(ناټو) دځواکونو په لاس کې دي د ناټو مسئولین دجرمونو دکشف او مجرمینو دنیولو په اړوند ده هاګ» دبین المللي عدالت دلیږل شوي هیئت سره مرسته نه کوي ، بلکې برعکس له یوې خوا صربیانو ته وخت ورکوي چې دغه دډله ایزو وژنو هدیرې له مینځه یوسي، اوله بلې خوا دمجرمانو په نیولو کې یوه اوبله بهانه کوي اووایي : چې داکار به دبوسنیا دسولې پروسه په خطرکې واچوي ، دجګړې مجرمان نه نیسي، دجګړې دجرمونو محکمه هم ورو ورو دصربیانو دغې بې شرمې ادعاته غوږ نیسي چې دغه خلك دجګړې په جریان کې وژل شوي دي.

په «هاګ» کې دجنګي جرمونو دمحکمې او «ناټو» دځواکونو له موجود سلوك اورویې څخه داسې معلومیږي چې دجګړې دجرایمو محکمه (TRIBUNAL) یواځې ددې دپاره تشکیل شوې دي، چې اسلامي نړۍ ته دوکه ورکړي او دبشر دوستیو پوالو په سترګو کې خاوري وراوچوي . تراوسه چې له صربي مجرمانو سره کوم سلوك او رویه کیږي ، له هغه نه داسې ترګندیږي چې دغه خلك مجرمین نه بلکې قهرمانان دي. څنګه کیداي شي چې له یوې خوا د له خو تخوارو اوظالمو مجرمانو سره مذاکرات کیږي اوله بلې خوا دهغه محاکمه کړای شي ، بلکې حقیقت داډی چې لکه څنګه چې د « ناټو » ویندو ویانو په وار وار ویلي دي چې : « اوس اصل خطر ده ناټو » په وړاندې اسلام دی » لویدیځ هیوادونه نه غواړي چې داسلام په نوم دې په اروپا کې کوم هیواد وجود ولري او ملګري ملتونه چې زیاتره ددوی تر اغیزې لاندې دي ، په دې هکله ددوی دهیلو او ارزوګانو سره سم حرکت کوي، چې دغې رویې دملګرو ملتونو دمؤسسې بې طرفه حیثیت او مقام ته ډېر زیان رسولی دی . ددریمې نړۍ هیوادونه او په ځانګړې توګه اسلامي نړۍ اوس ددغې مؤسسې بې پرې توب ته دشك په سترګه ګوري چې دی کار دملګرو ملتونو دمؤسسې راتلونکي په خطر کې کړي دي.

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

علماء وجامعهء روحانیت کشور محافظین وسپاهیان سرحدات جغرافیایی ونظریاتی کشور اند

قلعه جوادی

قسمت شانزده هم

نیروهای ملی مجاهدین

در سطور گذشته یاد آور شدیم که نیروهای عسکری دولتی از نگاه عدد وعُدد، کمیت وکیفیت (کیفیت فنی وتخنیکی تعلیم وتربیه پرسونل جنگی) هیچ نوع مناسبت وهمسری باقوه های سرتاپا مسلح وآراسته انگریز نداشته، واز ناحیه دارا بودن یك مرکز عالی فرماندهی مرکزی که به هم آهنگی ورهنمائی نیروهای خود در محاذات مختلف جنگ فعالانه پردازد، نیز عاجز وناتوان بودند، تنها نیرو وقوت عظمی که سرنوشت محاذات جنگ ورزم را تعیین میکرد، نیروهای ملی جهاد بود، که قیادت حقیقی وواقعی آن نیروها، دردست جامعه روحانیت قرار داشت و اثر ونفوذ معنوی وروحانی همین ذوات روحانی بود نتیجه جنگ را در محاذات مختلف خاصتاً محاذ جنوبی که قوی ترین ضربه را بر پیکر انگریز وارد کرده بود به نفع مجاهدین به پایان رسانید.

نیروهای ملی مجاهدین در جبهه های سه گانه جنگ :

۱ - جبهه شرقی (خیبر)

در کابل که مرکز فرماندهی اعلی نیروها از نگاه رسمیات وتشریفات پنداشته میشد فیصله چنین بودکه: بعداز هدایت وقوماندهٔ کابل جبهه های سه گانه هم زمان در یك تاریخ حمله را آغاز نمایند. صالح محمد خان که قومندان عمومی نیروهای محدود دولتی بود این هدایت مرکز را نادیده گرفت وخود سرانه بر جبهه خیبر بتاریخ ۳ می ۱۹۱۹م صادر کرد، در حالیکه قوه های اعزامی کابل به جانب جنوبی وقندهار در نیمه راه قرار داشتند.

درست معلوم نگردید که صالح محمد چرایك امر وهدایت که از نگاه اصول عسکری وایجابات شرعی اطاعت آن لازم وضروری بود(طبق قوماندهٔ مرکزی عمل کردن) آنرا نادیده گرفته خود سرانه عمل کرد. گرچه در آغاز کار پیشروئیهای نیروهای افغانی داشتند وقسمت از نقاط مهم را در آنطرف خط دیورند اشغال کردند. که متاسفانه در نتیجه حمله متقابله انگریز، قوه های افغانی عقب نشینی کرده ودر نتیجه صالح محمد خان که صرف از انگشت جرح برداشته بود صحیح وسالم با رئیس ارکان خود میدان جنگ را ترك گفت وامر عقب نشینی را صادر کرد، درحالیکه جنگ در اینطرف لندی کوتل به نفع قوای افغانی جریان داشت ودر پشت جبهه مجاهدین افریدی علیه انگلیس قیام کرده بودند. به اینصورت این سپه سالار رشید!! مردانه وار، سر خود را به سلامت برد ودرعقب خود صدها اجساد عسکرهای قهرمان راکه شهید شده بودند به میدان گذاشت. وقسمتهای ازخاك افغانی اینطرف خط دیورند نیز بدست قشون متجاوز انگریز قرار گرفت.

در این جریان هجان عمومی سراسر ولایات ننگرهار، لغمان وکنر را، فراگرفته بود تجمع مجاهدین ملی در هر طرف آغاز شده بود، رهبران جهاد به تبلیغ وتنظیم دستجات مجاهدین پرداخته بودند وبتعداد هزار ها نفر مجاهدین مسلح آماده جنگ علیه انگریز گردیده ومنتظر هدایت بودند که ناگاه متارکه جنگ در ۳ جون ۱۹۱۹م بین طرفین در جبهه خیبر امضاء گردید.

اگر صالح محمد خان به اقدام خود سرانه دست نمیزد ومنتظر اشتراك نیروهای ملی مجاهدین میگردید البته نقشه جنگ تغییر کلی میداشت یعنی همه جانبه به نفع مجاهدین تمام میشد ومجاهدین میتوانستند که در همان وهله اول نیروهای دشمن را حتی از پشاور به آسانی اخراج نمایند.

غبار «رهبران معظم روحانی جهاد را در این معرکه چنین معرفی داشته است:

میرصاحب جان پادشاه اسلامپوری، ملاصاحب چکنور، صاحب کنجوری، میرصاحب سیدپاچا، سیداحمد پاچا، میاصاحب سرکانی، محمد سعید صاحب وشرین جان چهار باغی(حضرات مجددی) «مولوی صاحب حبیب الرحمن کاموی پسرصوفی صاحب شنواری، سیدگل پاچا کنری، وجناب ملاصاحب بابری وجناب حاجی صاحب ترنگزائی.

۲ - جبهه قندهار:

بعدازنصف شب۲۶می قوای انگریز بقوماندانی جنرال هاردی سرحد افغانی را عبور کرده ودر ساعت ٦ نیم بجه صبح قلعه سرحدی افغانی را مورد حمله قرار دادند، جنرال مغرور انگلیس چون از قلت عساکر سرحدی افغانی مطلع بود نماینده ئی با بیرق سفید قبلاً به نزد ضابط افغانی فرستاده وخواستار تسلیم شده بود. ولی عساکر شجاع افغانی به این پیشنهاد ننگ اور دشمن جواب رد داده به دفاع پرداختند که

در نتیجه از سه صد نفر عسکر افغانی - ۱۵۰ آن شهید و ۱۵۰ تن دیگر آن زخمی گردید وقلعه سرحدی به دست دشمن افتاد.

سقوط قلعه جدید سرحدی در قندهار سبب قهر وغیظ مردم گردید وغند مشر غلام نبی خان امر سفیربری صادر کرد. اما خوشدل لوینات از آن جلوگیری کرد. تاآنکه اعتماد الدولة باتعداد کثیری از مجاهدین ملی بطرف سرحد حرکت کرد، انگلیس ها حدود افغانی را تخلیه کرده بطرف چمن عقب سیمهای خاردار عقب نشینی کرده وموضع گرفتند. لشکر ملی افغانی حدود دیورند را عبور کرده تاموضع «بغرة» پیشرفت کردند. قوای بزرگ افغانی نه تنها قرار گاه های چمن بلکه مراکز نظامی انگلیسها را در کویته نیز تحت تهدید شدید قرار داده بودند.

این قوای بزرگ در حالی حمله فیصله کن علیه قوای متجاوز انگریزی بودند وتاحال شمشیر از غلاف نکشیده بودند که متارکه بین دولتین امضاء گردید وحکم میشود که قوای افغانی بیست میل از سرحد عقب کشیده شود. نیروهای ملی مجاهدین از تحلیل این حکم ابا، ورزیدند.

۳ - جبهه جنوبی:

قوای دولتی در ۲٤ می ۱۹۱۹م به گردیز رسید وقوماندان قوای دولتی جنرال نادرخان بود که به معیت آن ذوات آتی عسکری دولتی قرار داشت: سردار شاه ولی خان، سردار شاه محمودخان، مبارکشاه غند مشر، محمد علم خان غند مشر، پتین بیك خان غند مشرو...

نادرخان تا ١٤می ۱۹۱۹م غرض طرح وتنظیم نقشه جنگ در بالاحصار گردیز سکونت اختیار کرد. در همین جریان خبر قطع مناسبات طرفین افغان وانگلیس را در ۹ می بدست آورد ودر ١٤می به استقامت جبهه جنگ عزیمت کرد. قبل از آغاز جنگ رسمی، مجاهدین مسعودی به پایگاه جنگی سروکی حمله برده و ۷۵ اشتر حمل ونقل انگریز را به غنیمت گرفتند. به دنبال آن مجاهدین تنی با قطع خطوط تیلگرافی انگریز پرداخته ودسته های گوریلائی مجاهدین ۲۲۰ اشتر غله، دشمن را به غنیمت گرفتند. به این شکل جنگ نیروهای ملی قبل از آغاز جنگ نیروهای عسکری دولتی آغاز شده بود. ومردم مسعود در ۲۰ می قلعه جنگی وانارا باقشون انگریزی آن در محاصره خود در آوردند. در خوست هم مجاهدین جمع شده وبه جانب پیوار، علی خیل وتوچی وکرم پیش رفتند.

قومندان نیروهای دولتی، نادرخان ابتداء به متون خوست رفت وبعداً به سپین وام رفت ومحاذات جنگ را تعین وتقسیم نمود:

الف: جبهه وزیرستان - ب: محاذ پیوار

ج: محاذ تل.

نیروهای ملی مجاهدین:

